# هغه کس به هېڅ کله دوزخ ته نه ننوځي چې د لمر له راختو او لوېدو څخه وړاندې يې لمونځ کړی وي

له ابو زهير عماره بن رؤيبه رضي الله عنه نه روايت دی وايي چې رسول الله صلی الله عليه وسلم وفرمايل:
«هغه کس به هېڅ کله دوزخ ته نه ننوځي چې د لمر له راختو او لوېدو څخه وړاندې يې لمونځ کړی وي»
[صحيح دی] [مسلم روايت کړی دی]

رسول الله صلی الله عليه وسلم فرمايلي دي: هغه څوک به دوزخ ته داخل نه شي چې د سهار او مازديګر لمونځونه په دوامداره توګه کوي؛ هغه ځکه په ځانګړې توګه د دې دوو وختونو څخه يادونه وکړه چې دا دواړه درانده لمونځونه دي، ځکه چې د سهار د لمانځه وخت د خواږه خوب پر مهال وي او د مازديګر د لمانځه وخت د ورځې په کارونو او تجارت د بوختيا له امله وي، نو چا چې د دې سختيو سره سره په دې دوو لمونځونو ټينګار وکړ، په نورو لمونځونو يې خپله کوي.

https://www.sunnah.global/hadeeth/ps/show/6215

النجاة الخيرية
ALNAJAT CHARITY
لجنة الدعوة الإلكترونية
EDC E-Da'wah Committee